# د ارواښاد حاجي عبدالخالق اخلاص لنډ ژوند لیک

# A Glance over the Autobiography of Haji Muhammad Ikhlas

Abdul Zahir Shakeeb*

**Abstract**:

In this paper, the author has shed light on the life and literary contribution of the late Haji Abdul Khaliq Ikhlas.As one of the prominent poet, scholar and active political figure during the first two decades of the 20th century; haji Khaliq has posed anti-impearilist ventures at Afghanistan. The paper presents some of the smapels of his scholarly and poetic expression that is stemmed in resistrance and also reconstructs a clear picture of the Afghan nationalism.

باید یادونه وکړم چې د ارواښاد اخلاص په اړه یادونې د ۱۳۱۷ کابل کالنۍ او ۱۳۶۵کال د افغانستان کالنۍ، کابل مجلې اوسني لیکوال او ځینې نورو کتابونو کښې شوي دي او د دهٔ په اړه په کښې لږ و ډېر معلومات خپاره شوي دي، په دې وروستیو کلونو کښې استاد حبیب الله رفیع او د ارواښاد اخلاص لمسي ښاغلي عبدالمختار اخلاص او ښاغلي څېړنیار عبدالرحمن حبیب زوی د دهٔ پر ژوندانه یو څهٔ کار کړی دی.

"د استاد حبیب الله رفیع لیکنې او یادښتونه (د استقلال څلورمه جبهه) کتاب او ځینو متفرقو خپرونو کښې راغلي، همدارنګه عبدالمختار اخلاص د دهٔ ځینې خواره واره شعرونه له مجلو او ورځپاڼو راټول کړي او د خپلو یادښتونو او لیکنو سره یې یو ځای تړې د لیسانس دورې مونوګراف ترتیب کړی دی".(۱)

* Abdul Zahir Shakeeb is Assistant Professor and Director of information and public relation at Academy of Sciences Kabul- afghanistan

همدا ډول څېړنيار عبدالرحمن حبيب زوی د خپلې څېړنيارۍ علمي رتبې ته د ترفيع په غرض د اروابناد اخلاص د ژوند او ادبي هلو ځلو په اړه يوه رساله ليکې ده. ددې تر څنګ په ۱۳۸۸ لمريز کال د کابل پوهنتون او روزنې پوهنتون د پښتو څانګې محصل بازمحمد هم د اروابناد اخلاص په اړه خپل مونو ګراف ليکلی، چې زياتره سره ورته ټکي لري.

اوس به راشو د اروابناد اخلاص ژوندليك ته چې په ډېر لنډيز به يې وړاندې کړو:

اروابناد عبدالخالق اخلاص د ملا جان اخونزاده زوی په۱۳۱۹ هجري قمري کال د رجب المرجب مياشتې د يوې مبارکې جمعې په ورځ چې د ۱۲۸۰ لمريز کال او ۱۹۰۱ميلادي کال سره سمون خوري، د کونړ ولايت د وټه پور د ډبوز کلي په يوه علمي او ديندارو کورنۍ کښې زېږېدلی دی چې د زېږېدنې نېټه يې ددۀ له نامه او د زېږېدو له مياشتې څخه استخراج شوې وه. په لاندې ډول:

عبدالخالق + رجب المرجب = د دۀ د پيدايش نېټه

عبدالخالق (۷۰+ ۲+ ۴+ ۱+ ۶۰۰ + ۱ + ۳۰ +۱۰۰ = ۸۳۸)

رجب المرجب (481=2+3+200+40+30+1+2+3+200)

(۸۳۸ + ۴۸۱ = ۱۳۱۹ هـ ق)

"اروابناد اخلاص د ساپي قبيلې د ګوربزو د ښاخ د ښادي خېلو پښې ته منسوب دی، درې ورونه او درې زامن يې درلودل، چې د ورونو نومونه يې (عبدالکريم، نورانجان او عبدالجبار) او د زامنو نومونه يې غلام قادر، غلام رحمٰن او غلام ياسين دي".(۲)

اروابناد اخلاص په خپل يو شعر کښې خپله پېژندنه داسې کوي:

"سوال مې د ايمان کوه مومنه خدای دپاره
مسکن مې په دهوز کښې نوم مې دی عبدالخالق
اخلاص مې تخلص دی د ادب په ژوندانه کښې
لباس فريب مې نۀ زده دي معلوم مې سوابق
مربوط د چغسرای يم په کونړ د مشرقي کښې

راجــع د مغفــرت يــم کــه هــر څــو يــم نــالايق" (۳)

د ده پــلار مــلا جــان اخــونزاده (۱۳۰۴ ل کــال مــړ) (۴) يــو عــالم، بــافکره او هوښــيار شخصــيت و، دينــي علــوم يــې لوســتي وو، کلــه چــې اخــلاص وزېږېــده، نــو پــر خپــل زوی يــې داســې نــوم کېښــود، چــې هــم يــې دينــي اړخ درلــود او هــم يــې د زوکــړې نېټــه تــرې څرګندېــده او هغــه دا چــې د دهٔ نــوم او د رجــب المرجــب د مياشــتې ابجــدي ارزښــت چــې ســره يــو ځــای شــي، د دهٔ د زوکړې نېټه ترې څرګندېږي.

اســتاد عبــدالروف بېنــوا د اوســني ليکــوال پــه پــاڼو کښــې د اخــلاص څېــره مــونږ تــه داســې ترســيموي: "دی ميانــه قــده، غــنم رنګــه، خنــده رويــه او ديندار ه پښــتون دی، لــه هــر چــا ســره محبت کــوي، ډېــر مخلــص او پــر زړهٔ پــاک سړی ښکاري، ساده وضعيت او بې تکلفه ژوند يې ډېر خوښ دی". (۵)

اروښــاد اخــلاص رســمي زده کــړې نــهٔ درلــودې، بلکــې پــه کــور کلــي او ســيمه کښــې يــې لــه پــلار او ســيمه ييــزو ملايــانو څخــه دينــې کتابونــه او همدارنګــه د فارســي ادب کتابونــه لوســتي وو، پــه اوســني ليکــوال کښــې د دهٔ د تحصيل او تعليم په اړه دا سې راغلي دي:

"دهٔ پــه خصوصــي ډول تحصــيل کــړی دی، عربــي او فارســي کتابونــه يــې لــه خپــل پــلار څخــه لوســتي دي، خــو احاديــث او تفاســير يــې يــو ځــای او بــل ځــای ويلــي دي. اخــلاص صــاحب لــه کوچنيــوالي څخــه د پښــتو ليکــل او لوســتل شــروع کــړي او د پښــتو د ادب ســره يــې مينــه درلــوده، چــې د همــدې مينې په اثر به يې کله کله په پښتو ژبه منظومې هم جوړولې".(۶)

خــو اروابنــاد اخــلاص پــه دې اړه خپلــه داســې وايــي: " تعلــيم او تحصــيل مــې ټــول پــه خپــل کلــي کښــې د خپــل مرحــوم پــلار رحمــة الله عليــه نــهٔ کړی دی، بل ځای ته د تحصيل د پاره وتلی نهٔ يم".(۷)

اروابنــاد عبــدالخالق اخــلاص پــه ۱۳۰۳ المريــز کــال (پــه منګلــو کښــې د ګــوډ مــلا د بغــاوت پــر مهال)پــه افغــاني اردو کــې پــه رســمي خــدمت پيــل وکــړ، لــومړی د نظامي کنډک کاتب او بيا ورپسې د کنډک مشری رتبې ته ورسېد.

"په ۱۳۱۰ لمريز کال د خپل قوم له خوا د ملي شورا وکيل وټاکل شو، کله چې يې د وکالت درې کلنه قانوني دوره پای ته ورسېده، نو په چغسرای کښې د لومړني ښوونځي سرښوونکی وټاکل شو، د دۀ د وينا له مخې په ۱۳۱۴ لمريز کال د پښتو ژبې د ترويج او تنظيم په غرض د نورو غړو سره کابل ته وغوښتل شو او هلته د (انجمن ادبي کابل) د اديبانو په شعبه کښې غړی شو(۸)کله چې په ۱۳۱۶ لمريز کال د کندهار ادبي انجمن او د کابل ادبي انجمن سره يو ځای شول او پښتو ټولنه ترې جوړه شوه، نو په همدغه کال نوموړی رسماً د پښتو ټولنې غړی شو، تر يو کال تېرېدو وروسته په ۱۳۱۷ لمريز کال د اتحاد مشرقي د اخبار مرستيال وټاکل شو. اروابښاد اخلاص په دغه اخبار کښې د څۀ مودې خدمت وروسته يو ځل بيا په ۱۳۱۸ل کال بېرته کابل ته راغی او د پښتو ټولنې د لغاتو د څانګې مدير وټاکل شو، چې دغه دنده يې تر ۱۳۲۱ لمريز کال پورې په پوره اخلاص تر سره کړه. وروسته يې د کورنيو ستونزو او مشکلاتو پر اساس له رسمي دندې لاس واخيست او په ۱۳۲۶ لمريز کال يو ځل بيا د ملي شورا وکيل وټاکل شو چې دغه دنده يې تر ۱۳۲۸ کال پورې تر سره کړه. له دې وروسته يې دولتي دنده نۀ درلوده او پرکور ناست و".(۹)

اروابښاد اخلاص د ۱۹۱۹ م کال د استقلال په مقدس جهاد کښې برخه اخيستې وه او دغه صحنې يې په خپلو سترګو ليدلې وې او د ارندو يا ارنوی په جنګ کښې يې له ستر غازي ميرزمان خان سره برخه اخيستې وه او په خپلو نظمونو کښې يې ددې جنګ يادونه هم کړې ده.

"کله چې په ۱۳۲۴ لمريز کال په کونړ کښې ساپيو قبيلې د حکومت پر ضد پاڅون وکړ، نو د اروابښاد اخلاص څخه يې غوښتنه وکړه، چې دحکومت پر ضد له دوی سره ملاتړ وکړي، خو اروابښاد د حکومت پر ضد بغاوت ته د يو غير شرعي عمل په سترګه وکتل او د هغوی ملګرتيا يې ونه کړه، چې په پای کښې ساپيو د دۀ کور تالاکړ او اخلاص مجبور شو، چې خپل کور کلی پرېږدي او شينکوړک ته ولاړ شي ، چې په

شـینګوړك كښـې د ځـۀ مـودې لـه تېرولـو وروسـته بېرتـه خپـل كلـي تـه راستون شو".(۱۰)

همـدا ډول كلـه چې پـه ۱۳۰۳ لمريـز كـال پـه لويـه پكتيـا كښـې منګلـو او نـورو قبيلـو د ګـوډ مـلا پـه مشرۍ د بغـاوت بيـرغ پورتـه كـړ، نـو د ددې بغـاوت د ځپلـو پـه منظـور حكومـت د كـونړ لـوى خـان ميرزمـان خـان هلتـه واسـتاوه، چـې پـه دې لښـكر كښـې اروابښـاد اخـلاص هـم ګـډون درلـود، چـې ددغـه مهـم يادونـه د اروابښـاد اخـلاص پـه شعرونو كښـې هـم شـوې ده او پـه خپـل يـو اثـر (سيف الامان) كښې يې ددغه مهم حالات په مفصل ډول راوړي دي.

اروابښـاد اخـلاص پـه ۱۳۳۶ لمريـز كـال د حـج د مقدسـې فريضـې د اداء كولو په نيت بيت الله شريف ته تللى او د حج فريضه يې ادا كړې ده.

"پـس بسـال سـېزده صـد و سـى وشـش
شـوق بيـت الله امـد در منـش
گشـت توفيـق خداونـد م رفيـق
شـد نسـيم وصـلت بيـت العتيـق (۱۱)

اروابښـاد اخـلاص پـه خپـل يـوه ليـك كښـې چـې د ژونـد پـه وروسـتيو كښـې يـې اسـتاد حبيـب الله رفيـع تـه اسـتولى و، د خپـل ژونـد د وروسـتيو كلونـو پـه اړه داسـې كښـلي دي : "وروسـته د شـوراى ملـي د وكالـت نـۀ پـه سـنه ۱۳۳۶ كښـې د بيـت الله شـريف د حـج د پـاره عربسـتان تـه ولاړم چـې لـه هاغـه ځايـه پـه خير سره راوګرځېدم بـاقي عمـر مې پـه خپـل كـور كښـې تېـرول غـوره كړ، د دولتي كارونو شموليت ته مې اختيار ونه كړ".(۱۲)

كلـه چـې روسـي ښـكېلاك پـر افغانسـتان يرغـل وكـړ او افغـان ولـس د خپـل كلـي او كـور پرېښـودلو تـه اړ شـو، نـو د مهـاجرو پـه كـاروان كښـې اروابښـاد اخـلاص هـم پـه ۱۳۶۰ لمريـز كـال د كـوزې پښـتونخوا د صـوابۍ سـيمې تـه مهـاجر شـو، (۱۳)هلتـه يـې پـه كمـزوري وجـود او سـپينه ږيـره د روسـانو پـر ضـد خپلـې قلمـي مبـارزې تـه دوام وركـړ او بـالاخره د ۱۹۸۸ مـيلادي كـال د جنـوري پـر ۱۹ نېټـه، چـې د ۱۳۶۶ لمريـز كـال د جـدي لـه ۲۹ نېټې سره سـمون خـوري، لـه دې فـاني نـړۍ ځخـه د تـل لپـاره سـترګې

پټې کړې او د صوابي کېمپ د مهاجرو په هديره کښې خاورو ته وسپارل شو(۱۴). اروا دې ښاده وي.

استاد حبيب الله رفيع د دهٔ د ادبي کارونو په اړه داسې وايي:

"اخلاص صاحب علاوه پر پښتو په پارسي هم نظم او نثر ليکلای شو، چې د دهٔ زيات آثار په کابل مجله، اتحاد مشرقي او د هېواد په نورو مطبوعاتو کښې خپاره شوي دي، هغه د شعرو شاعرۍ په ډګر کښې هر ډول شعرونه لکه ادبي، اخلاقي، اجتماعي، مذهبي او نور... مينه والو ته وړاندې کړي دي"(۱۵)

آثار او تاليفات:

اروا ښاد عبدالخالق اخلاص تل له کتاب او قلم سره خپله اړيکه ټينګه ساتلې او د ژوند تر پايه يې قلم له لاسه نهٔ دی غورځولی، هغه د افغانستان پر ملي ژبو ډېر زيات علمي څېړنيز آثار ليکلي، چې له دې ډلې يې ځينې چاپ او ځينې هم ناچاپ دي، چې د آثارو د شمېر په اړه يې بېلا بېلې ليکنې شوي دي. اوسني ليکوال او د ۱۳۱۷ کال کابل کالنۍ د ده آثار شپږ ښودلي:

۱: ګلشن رنګين (د پښتنو پاچاهانو لنډ تاريخ) ۲: تصحيح تلاوت في علم القرأت ۳: نهضت پشتو ۴: لوی خويونه ۵: د نورستان حالات ۶: نورستان ياجديدالاسلام(چې د ۱۳۱۸ کال په کابل کالنۍ کښې چاپ شوی.

په پورتنيو کتابونو کښې "ګلشن رنګين" د عبدالخالق اخلاص اثر نهٔ دی. دا يوه کوچنۍ منظومه رساله ده، چې د استقلال کتاب په پای کې له ۷۹مخ نهٔ وروسته تر ۹۴مخ پورې راغلې.

"د دې منظومې رسالې ويناوال سيد عبدالغفار ملنګ د سيد عظيم زوی دی، چې په ۱۲۶۰المريز کال د اسمار په شال کې زېږېدلی او په ۱۳۲۵المريز کال همالته مړ دی".(۱۶)

د دې رسالې لومړۍ برخه مثنوي ده او پاتې برخه يې مقامونه، غزلې او بدلې دي. په دې رساله کې د غازي امان الله خان او ميرزمان خان ستاينې شوي دي او د څلورمې جبهې د حالاتو بيان په کښې راغلی دی.

استاد حبیب الله رفیع د (استقلال څلورمه جبهه) کې د عبدالخالق اخلاص آثار داسې راپېژني:

"۱: استقلال ( د استقلال څلورمه جبهه) ۲: سیف الامان ۳: تصحیح التلاوت في علم القرأت ۴: نهضت پښتو ۵: نورستان یا جدید اسلام ۶: د نورستان حالات ۷: لوی خویونه". (۱۷)

پر دې کتابونو سربېره دغه لاندې کتابونه هم د اروابناد اخلاص آثار دي، چې د دهٔ له لمسي سره خوندي دي:

"۱: بمنتج الفرایض،چاپ ۲: رهنماي مناسک حج یا هادی اداب زیارت ۳: مختصر حالات شاهان کابل ۴: د انسانانو منشاء او د روسانو استبداد ۵: د کالو سري حسابونو مجموعه ۶: (متفرق اشعار یا شعري ټولګه)".(۱۸)

الف : چاپ شوي آثار:

۱: د استقلال څلورمه جبهه:

دا کتاب لومړی ځل په ۱۳۰۲ کال د ناویشلي هندوستان په پېښور کې چاپ شوی دی. دویم ځل د استاد حبیب الله رفیع له خوا په ۱۳۶۵ المریز کال په پېښور کښې خپور شوی، په دریم وار په ۱۳۸۴ ل کال د دانش خپرندویې ټولنې له خوا په ۲۶۷ مخونو کې چاپ شوی دی. چې سریزه، سمون، لمنې او نښلونې پرې استاد حبیب الله رفیع لیکلي دي، پر دې اثر استاد محمدآصف صمیم د (خپلواکۍ د یوې هېرې جبهې یو یاد سپاهي) تر سرلیک لاندې او اروابناد محمدهاشم زماني پرې په پنځو مخونو کې تقریظ کښلی دی. اروابناد زماني هم د نورو درنو لیکوالو په څېر د افغان انګلیس د جګړې پرمهال څلور واړه جبهې ښې په تفصیل سره ښودلي دي او د دې کتاب د مؤلف عبدالخالق اخلاص ونډه یې د استقلال په څلورمه جبهه کې ویاړلې او ستایلې ده.

دا کتاب په څلورم وار په ۱۳۸۹ لمریز کال په کابل کښې د استقلال امانیه تر سرلیك لاندې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسې له خوا هم چاپ شوی دی.

استاد رفیع وایي "دا اثر چې مونږ د استقلال څلورمه جبهه نوم پرې ایښی، د اخلاص صاحب یو تاریخي اثر دی، چې د ۱۳۱۸کال په کابل کالنۍ کښې د استقلال په نامه ښودل شوی او په اوسني لیکوال کې بیا د ګلشن رنګین په نامه معرفي شوی دی، چې د پښتنو پاچاهانو لنډ تاریخ دی د دې کتاب اصلي موضوع د استقلال د جګړې پرمهال د کونړ د جبهې څېړنه او شننه ده او دا هغه څلورمه جبهه ده، چې مؤرخینو هېره کړې ده. د دې کتاب د نامه (د استقلال څلورمه جبهه) وجه همدا ده".(۱۹)

"د استاد رفیع په حواله کله چې ښاغلي اردلان خان زماني د دې کتاب د لومړي چاپ نسخه ښاغلي استاد رفیع ته وسپارله، څرګنده شوه چې د کتاب اصلي نوم، چې تر ۱۳۰۲ لمریز کال راوروسته په ناوېشلي هند کښې چاپ شوی و، (استقلال امانیه) دی، نو ځکه یې په څلورم چاپ کښې پر همدې نامه چاپ کړ".(۲۰)

د ښاغلي اردلان خان زماني په قول د دې اثر قلمي نسخه په برېټش موزیم کښې په 58 F نمبر الماری کې ساتل کیږي.

په هر حال دغه اثر د اروابناد اخلاص یو منظوم اثر دی چې د استقلال د جنګ د چترال حوزې د جهاد په اړه په کښې معلومات په نظم وړاندې شوي دي، چې ډېرې پېښې د اخلاص د خپلو سترګو لیدلي حالات دي.

۲: تصحیح التلاوة فی علم القرآت:

"دا اثر د تجوید د علم په اړه دی چې په کښې د تجوید علم په نظم کې شرح شوی دی او په ۱۳۱۰ لمریز کال نظم شوی ، نوموړی اثر په ۱۳۵۰هـ ق کال د رحیمیه کتابخانې له خوا د پېښور د خیبر بازار په منظور عام پریس کښې له چاپه راوتلی دی.د دې اثر بیتونه څوارلس څپه ییز دي او جوړښت یې د غزلو په بڼه دی". (۲۱)

دا رساله په لویه قطع چاپ شوې، چې ۳۷ بابه او ۳۹ فصلونه لري. د دې کتاب په پای کښې ۱۳۱۷ ل کال کښل شوی او د قاري حبیب الله باجوړي، د جمعیت العلماءِ تقریظ، د علمای دارالعلوم عربیه و قضات

محکمه تقریظ او د کابل د ادبي انجمن د ادباوو تائیدي نظر په کښې اخیستل شوی او نومونه یې راغلي دي.

۳: بمنتج الفرایض:

د میراث د علم په اړه په پارسي نظم لیکل شوی اثر دی، چې په ۱۱۲مخونو کې چاپ شوی دی. د کتاب پر وروستۍ پښتۍ دا لیکنې راغلي دي: (ماشاالله لاحول ولاقوة الابالله، منظومه ضوابط میراث موسوم بمنتج الفرایض با سوانح عمر و تواریخ عمدهٔ طبعزاد اخلاص متوطن دهوز.) تر دې وروسته د خپرندویې ټولنې نوم او چاپ ځای (منظور عام پریس خیبر بازار پشاور) راغلی دی.

دا کتاب دوې برخې لري، لومړۍ برخه یې له لومړي مخ نه تر ۷۸مخ پورې د میراث د علم په اړه ده. په دویمه برخه کې یې د لیکوال ژوند، داستقلال د جګړې ځینې پېښې او نورې تاریخي واقعې راغلي دي، چې د افغانستان د خپلواکۍ او د غازي امان الله خان له واکمنۍ سره اړه لري. د کتاب په پای کښې د کتاب د عناوینو فهرست راغلی دی.

۴: باغ دلکش یا نهضت پښتو:

دا کتاب ۱۰۷ مخونه لري چې قلمي نسخه یې بشپړه ده، دا اثر د پښتو ژبې د زده کړې یو لاربښود کتاب دی، د استاد حبیب الله رفیع د وینا له مخې: "په ۱۳۱۷هـ ش کال کې په انیس ورځپاڼه کې په پرله پسې توګه خپور شوی دی".(۲۲)

دا کتاب جلا نهٔ دی چاپ شوی او پر قلمي نسخې باندې یې د لیکلو نېټه هم نهٔ ده څرګنده.

دا اثر ۳۰ قطعې او ۳۰ سبقونه لري، چې قطعې یې په دري نظم او سبقونه یې په پښتو ژبه کښل شوي دي، ددې کتاب په دري قطعو کښې پښتو لغات راوړل شوي او بیا دغه لغات په سبقونو کښې په پښتو نثري جملو کښې شنل شوي دي.ددې کتاب د قلمي نسخې په پای کښې د غزل په فورم کښې (پښتنو ته دعا) ترسرلیك لاندې یو نظم هم راغلی دی. د نوموړي اثر قلمي نسخه د ارواښاد اخلاص له کورنۍ سره خوندي ده.

۵: نورستان یا جدید الاسلام:

پــه نومــوړي اثــر کښــې د نورســتان د خلکــو کلتــور، رســم ورواج او د اســلام څخــه وړانــدې احــوال بیــان شــوي دي، دا منشــور اثــر د ۱۳۱۸لمریــز کــال پــه کابــل کــالنۍ کــې خپــور شــوی، خــو تــردې مهالــه پــه جلا توګــه نــهٔ دی چــاپ شــوی. دا اثــر د کابــل کــالنۍ لــه ۲۶۰ مــخ څخــه پیلېــږي او پــه ۲۷۹مــخ کښې پای ته رسېږي، چې ددې کالنۍ شل لوی مخونه یې نیولي دي.

ب : ناچاپ آثار

۱: مختصــرحالات شــاهان کابــل و شــیوع انقــلاب رئــیس دولــت افغانســتان :

دا کــوچنۍ رســاله د ښــاغلي اخــلاص د پارســي شــعرونو ټولګــه ده، چــې د افغانســتان د واکمنــانو لنډ تاریخونــه یــې پــه منظومــه بڼــه ویلــي دي. چــې پــه کښــې یــې لــه امیــر حبیــب الله خــان څخــه نیــولې د ببــرک کارمــل تــر واکمنــۍ پورې د واکمنانو تاریخونه راوړي دي.

ددې رسالې د پېل بیت دا ډول دی :

قــــدرت محــــض خـــدای در امـــور کلهـــا اســـت
مــوت و احیـا ، عـز وذلـت خیـر شـر حکـم خدا اسـت

د پای بیت یې په دې ډول دی :

گـــر شــــد پیـــدا زعـــیم و مقتـــدای اهـــل دیـــن
پـس امیـد نصـرت اسـت از لطـف رب العــالمین

۲ : رهنمای مناسک حج (هادي اداب زیارت):

دا کتــاب پــه ۱۳۳۵لمریــز کــال د مرغــومي پــه ۸مــه نېټــه پــای تــه رســېدلی دی.

کتاب دوې برخې لري:

د کتــاب پــه لــومړۍ برخــې (رهنمــای مناســک حــج) کــې یــې لــه څلــور مخیزې سریزې وروسته د حج فرایض سنتونه او اداب بیان کړي دي.

په دويمه برخه کې (هادي آداب زيارت) کې يې تر اوږدې سريزې وروسته د بيت الله شريف د ليدلو دعاګانې او د بېلا بېلو زيارتونو د ليدلو او زيارت پر وخت دعاګانې ښودلي ، چې د حج پرمهال يې ليدنه اړينه ده.

۳: د کالو سري حسابونو مجموعه:

دا اثر ۷۷ مخونه لري. چې په ۱۳۵۲ لمريز کال يې له ليکلو فارغ شوی، منځپانګه يې د درې ګونو کلونو (قمري، شمسي او عيسوي) د وختونو، مياشتو او ورځو سمون او يو پر بل باندې د اړولو شرح ده. دا کتاب په فارسي نظم د مياشتو نومونه، ترتيب او مقدار تشريح کوي.

همدا شان د وختونو او مهالونو مسايل د استوايي کرښې د سيوري پر اساس د هر وخت اندازه، د ساعت او دقيقو په حساب په هر موسم او هره مياشت کې بيان او ښودل شوي دي.

۴: د انسانانو منشاء او د روسانو استبداد:

دا د عبدالخالق اخلاص يو بل ناچاپ اثر دی، چې ټولټال ۴۷مخونه لري او د مهاجرت پرمهال يې په ۱۳۶۶لمريز کال ليکلی دی. دا کتاب دوه منظومې برخې لري، لومړۍ برخه کښې يې د انسانانو د پيدايښت بېلابېل پړاوونه تشريح کړي، لکه د انسانانو رامنځ ته کېدل، قبايل او احزاب، پيغمبران او کتابونه يې او د شاهانو خواهشات. په دويمه برخه کښې يې د روسانو ناوړه کړنې او جنايتونه را سپړلي دي او تر بېلابېلو سرليکونو لاندې يې روسان او د هغو بربڅي غندلي دي. همدا شان ددې رسالې په پای کښې په پښتو ژبه د اروابناد اخلاص وصيتنامه د څلورو مصاحبو په بڼه راغلې ده.

دغه اثر په دې بيت سره پای ته رسېږي:

لــــه بــــې ننګــــه اقربــــاوو او ملګــــرو
بيګانــــه غيــــر مــــې ښــــه دي يــــو پــــه زرو

۵: د اخلاص شعري ټولګه:

"پـر دې اثـر ښـاغلي حبيـب زوی د اروابښـاد اخـلاص پـه اړه پـه ليکـل شـوي اثـر کښـې (د اخـلاص ګلغونچـه) نـوم ايښـی دی، هغـه وايـي دا کتـاب د اخـلاص د شـعرونو يـوه وړه ټولګـه ده، چـې بـېلا بېـل اشـعار لکـه غـزل، مخمـس، ربـاعي او نـور شـعري فورمونـه پکـې راغلـي دي.تـر کومـه چـې دغـه ټولګـه مـا ليـدلې يوه الفنامه، يو د توشيح صنعت او يو شير و شکر مخمس هم لري.

ددې کتـاب پـر لـومړي مـخ داسـې ليکـل شـوي دي: (مجموعـه اشـعار پښتو طبعزاد عبدالخالق کنري متخلص اخلاص)".(۲۳)

۶: سيف الامان:

"دا د اروابښـــاد اخـــلاص يـــو بـــل ناچـــاپ منظـــوم اثـــر دی، د ۱۳۰۰ شـاوخوا بيتونـه لـري، چـې قلمـي نسـخه يـې د استـاد حبيـب الله رفيـع سـره خونـدي ده،(۲۴) اسـتاد حبيـب الله رفيـع د دې اثـر يادونـه داسـې کـوي « دا د اخـلاص يـو منظـوم اثـر دی، چـې د ګـوډملا او د منګلـو د ۱۳۰۳المريـز کـال بغـاوت يـې لـه پيـل نـهٔ تـر پـای پـورې تـار تـاريز پکښـې ليکلی او يـوه برخـه يـې د دهٔ د سـترګو ليـدلې پېښـې دي دا کتـاب د مثنـوي پـه کالـب کښـې کښـل شوی دی".(۲۵)

۷- تاريخچۀ اخلاص:

لـه دې اثـر څخـه هـم زه د اسـتاد حبيـب الله رفيـع لـه خـولې خبـر شـوم، چـې د دغـه اثـر پـه اړه هغـه داسـې معلومـات راکـړل: (تاريخچـۀ اخـلاص) دري منظومـه ده، چـې اخـلاص صـاحب پـه سـپين ږيرتابـه او د کهولـت پـه دوره کښـې (۱۳۶۵المريـز) چـې د صـوابۍ پـه کيمـپ کښـې يـې ژونـد کـاوه د افغـان شـوروي د جګـړې پېښـې پـه کښـې ليکلـي او قلمـي نسـخې يـې د اسـتاد رفيـع سـره خونـدي ده، پـر دې اثـر اسـتاد حبيـب الله رفيـع تعليقـا ت او سـريزه کښـلې او مـتن يـې چـاپ تـه چمتـو کـړی دی، خـو تـر دې مهالـه نـهٔ دی چاپ شوی. (۲۶) ددې اثر څو کرښې په لاندې توګه دلته راوړو:

چــون زخیــر ملــت آمــد جیــب حــالم پــر متــاع
ســال عمــرم شــد (فــدا)(*) بــود اســت وقــت الــوداع
درد ودســتم لــرزش آمــد همچــو بــرگ بیــد لشــك
خامــه شــد زامــلای حرفــی د رانــا مــل چــوب خشــك
رخــش کلکــم یرغــه ارمیــدان کاغــذ میدویــد
پــی شــد آخــر از دوا دولنــگ لاغــر اوفتیــد
حیــف و افســوس اینکــه تصمیم دلــم نامــد تمــام
مانــد درتعویــق فیــروزی بحســن اهتمــام
زانکــه بــس دورو دراز آمــد قضــایای امــور
"دانــد الله ســاحل ایــن بحــرو میعــاد عبــور
مطلعــات مختصــر از روی تــاریخ آنچــه بــود
گفتــه شــد از صید یکــی بــل کــم ازان تــا اینحــدود
بــا قــیش هــر آنچــه آیــد از حــوادث بعــد از ایــن
شــاید آنــرا گفــت یــك صــاحب قلــم شــخص آمــین
تــا شــود فــتح ونجــات مملکــت اتمــام آن
همچنــان کــار زوی (اخــلاص) اســت جــز انجــام آن
یــا الهــی خــاك پــاك کشــور افغــان زمــین
و رهــان و پــاك دار از لــوث و نحــس غاصــبین (۲۷)

د پـایلې پـه توگـه بایـد ووایـم چـې اروابښـاد عبدالخالق اخـلاص د پښـتو او دري ژبـو هغـه لیکـوال او شـاعر دی، چـې د خپـل عمـر پـه اوږدو کـې یـې ډېر څـۀ زده کـړي او ډېـر څـۀ یـې خپلـو ملـي ژبـو پښـتو او دري تـه وردالـی کـړي دي؛ خـو چـې پېژنـدل یـې څـۀ ډول لازم وو پـه هغـه ډول تـر اوسـه پـه ادبـي او علمي حلقو کښې معرفي شوی نۀ دی.

اروابښـاد اخـلاص د پښـتو ژبـې او ادب د سـتر بابـا خوشـال پـر پلـه پـل اېښـی او د تـوري تـر څنـگ یـې قلـم هـم چلـولی دی. هغـه د افغـان انگلـیس (۱۹۱۹ز) تـر منـځ د خپلـواکۍ پـه جگـړه کـې فعالـه ونـډه اخیسـتې وه او د

* ۸۵

ازادۍ د دغې معرکې په څلورمه جبهه "کونړ" کې يې د مبارزو په تاوده سنګر کښې ډېرې سترې او ستونزې ګاللي دي.

د نوموړي له ليکنواو شعرونو څخه برېښي، چې نوموړی ښه شاعر، ليکوال او مؤرخ ؤ. که څۀ هم اروابناد اخلاص اکاډميکې زده کړې نۀ وې کړې او مروجه علوم يې له خپل پلار او سيمه ييزو ملايانو څخه لوستي وو. خو له دې سره يې هم ډېرې لوړې علمي څېړنيزې ليکنې کړې دي.

عبدالخالق اخلاص په نظم او نثر په پښتو او دري ژبه يو شمېر آثار کښلي دي چې دغه اثار د بېلا بېلو موضوعاتو په اړه دي. پر دغو کتابونو او رسالو سربېره يې په لس ګونو علمي- څېړنيزې مقالې، شعرونه او نثرونه په کابل، انيس، اتحاد مشرقي او ځينو نورو مجلو او جريدو کې خپاره شوي دي.

# حوالې


(1) عبدالرحمٰن حبیب زوی، د عبدالخالق اخلاص د آثارو څېړنه، ناچاپ اثر

(2) عبدالمختار اخلاص،د اخلاص غونچه، د لسانس مونوګراف، ۱۳۷۷ ل کال، ټایپي اثر، ۳ مخ.

(3) عبدالخالق اخلاص، تصحیح التلاوت فی علم القرائت، رحیمیه کتابخانه پېښور، ۱۳۵۰ کال، مخ ۲۲.

(4) عبدالخالق اخلاص د انسانانو منشاء او د روسانو استبداد، قلمي اثر، ۱۳۶۶ ل کال مخ۴۳

(5) عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، لومړی ټوك، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۴۰ ل کال، مخ۴۸.

(6) همدغه.

(7) حبیب الله رفیع، اروابناد اخلاص (قلمي مقاله)

(8) همدغه.

(9) عبدالخالق اخلاص، بمتج الفرایض، رحیمیه کتابخانه پېښور، ۱۳۳۲ ل کال، مخونه ۹۲- ۹۴

(10) عبدالخالق اخلاص د انسانانو منشاء او د روسانو استبداد، مخ ۴۶

(11) عبدالخالق اخلاص، بمتج الفرایض، مخ۹۵

(12) حبیب الله رفیع، اروابناد اخلاص، قلمي مقاله.

(13) عبدالخالق اخلاص د انسانانو منشاء او د روسانو استبداد، مخ۳۲

(14) عبدالمختار اخلاص،د اخلاص غونچه، بېل بېل مخونه.

(15) د استقلال ځلورمه جبهه، مخ 114

(16) عبدالخالق، اخلاص. د استقلال ځلورمه جبهه، سریزه، سمون، لمنې او نښلونې دحبیب الله رفیع، ۱۳۸۴، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، مخ۲۲۰.

(17) حبیب الله. رفیع، د استقلال څلورمه جبهه، مخ۱۲۲.
(18) عبدالرحمن حبیب زوی، د عبدالخالق اخلاص د آثارو څېړنه.
(19) د استقلال څلورمه جبهه، مخ۱۲۳.
(20) د استاد حبیب الله رفیع شفاهي یادابنت
(21) د استقلال څلورمه جبهه، مخ۱۱۲
(22) همدغه مخ، ۱۱۹.
(23) عبدالرحمن حبیب زوی، د عبدالخالق اخلاص د آثارو څېړنه.
(24) حبیب الله رفیع، اروابناد اخلاص (قلمي مقاله)
(25) د استقلال څلورمه جبهه، مخ۱۱۴.
(26) استاد حبیب الله رفیع شفاهي یادابنت
(27) حبیب الله رفیع، اروابناد اخلاص (قلمي مقاله)